



# پوهاند مجروح د شهادت شپږدیرشم تلین

پوهاند داکترسید بهاالدین مجروح د ۱۹۸۸ عیسوی کال د فبروری په ۱۱مه نیټه په خپل دفتر، افغان اطلاعاتی مرکز کی د افغانستان د معلومو دښمنانو له خوا په شهادت ورسید. انا لله و انا الیه راجعون

www.dawatmedia24.com



Professor Majrooh in first year of immigration in a hard satuation started Afghan Information Centre monthly bulletin with a simple typewriter in his friend's house

۱۹۸۰ کال په افغانستان د شوروی سرو پوځونو د ننوتو سره سم پوهاند مجروح د فبروی په ۱۲ پاکستان ته مهاجرت وکړ، او پیښور ته د رسیدو سره یی د افغان اطلاعاتی مرکز فعالیت د انګلیسی ژبی د میاشتنی خپرونی سره شروع کړ. افغان اطلاعاتی مرکز یواځینی مستقله رسنۍ وه چی هیڅ تنظیم پوری اړه نلرله او په افغانستان د روس د یرغل او د آزادۍ د جنګ اول لاس خبرونه، راپورونه او مرکی، د مهاجرت، داخلی بی ځای شوی اولس، د بشری حقونو سرغړونه، بیړنی مرستی، اقتصادی، اجتماعی، صحی او د افغانستان عمومی حالت اطلاعات د جنګ په دواړو خواو کی چی د مرکز راپورترانو راټولیدل، مجروح صاحب د خپل تحلیلونو او وړاندوینوسره ټولو نړیوالو رادیویی، تلویزیونی او چاپی رسنیو او اړوند نړوال موسساتو ته وړاندی کول او هم یې د مرکز د انګلیسی ژبې میاشتنې خپرونې کی نشر ته سپارل. هغه وخت پر افغانستان د روس یرغل او په مقابل کی افغان اولس جهاد د نړۍ د میډیا د خبرونو سرخط ؤ. دی حساس وخت کی چی پوهاند مجروح کوم لمړی لاس کره او هر اړخیز معلومات نړۍ ته

www.dawatmedia24.com

وړاندی کول په لنډ وخت کی يې افغان اطلاعاتی مرکز نړیوال شهرت ته ورساوه.

تنظیمی رسنیو خپل اعتبار په نړیواله میډیا کی دلاسه ورکړی ؤ، ددی دپاره چی د جهاد د سنګر د فتوحاتو ادعا به ټولو تنظیمونو په یوه وخت کوله او هر یو به کوښښ کولو چی تر ټولو لمړۍ خپل راپور خپور کړي تر څو د پاکستانی استخباراتو (ای اس ای) نه پری ډیری وسلی او مرستی تر لاسه کړی. خو دا تشه خواری وه ځکه پاکستانی میډیا به د هغه چا په نامه خبرونه خپرول څوک چی د استخباراتو وفاداره نوکران وو، او د وسلو او مرستو دری برخی به یی تر لاسه کولی.

د تنظیمی مدعیانو د فتوحاتو دا ناقابل اعتبار راپورونه او لاپې به نړوالی میډیا بیا پوهاند صاحب سره چک کولې تر څو اصل حقایق ځان ته معلوم کړي. داسی خارجی څوک نه ؤ چی د افغانستان په اړه يې پاکستان ته سفر کړې اوسي او افغان اطلاعاتی مرکز يې نه وي ليدلي او مجروح صاحب نظر، تحلیل او وړاندوینی يې نه وي اوريدلي. دی میلمنو کی عالی رتبه سیاسی، نظامی، استخبارتی مشران، ديپلوماتان، بشری حقوقو مسؤلین، او ټولو معتبرو نړیوال خبری رسنیو راپورتران، د انجیوګانو مسؤلان او داسی نور په لسهاو خارجیانو په ځنګ کی ډیرو جهادی قوماندانانوهم هره ورځ د افغان اطلاعاتی مرکز نه لیدنه کوله چی د مرکز ته راغلي میلمنو په کتاب يې لاسلیکونه او یاداشتونه موجود دی.

همداشان پوهاند مجروح سره د ډیر مصروفیت په ټولو نړیوالو کنفرانسونو، سیمینارو او غونډو کی برخه اخیستله چی د افغانستان په رابطه جوړیدل، او هری غونډې ته علمی، سیاسی او ټولنیزی مقالی او تحلیلونه وړاندی کول او د افغانستان او دمنطقی د مشکلاتو د حل د پاره وړاندیزونه کول او د راتلونکو چلنجونو نه به یی افغان اولس او نړیوالو ته اخطارونه ورکول.

www.dawatmedia24.com

پوهاند صاحب ته په خپله ټوله مبارزه کی هغه وخت ډیر تشویش پیدا شو چې دې پوه شه چې افغانستان ته د نیړدی دوستانو په جامه کې داسې ستر چلنجونه پیښ دي چې د دښمن تر مخامخ سنګر ډیر خطرناک او ویجاړونکی دي. د پوهاند صاحب دلیکنو تحلیلونو او وړاند وینو اصلی پیغام افغان اولس د آزادئ سترپېراو ته رسول وو. کوم چی دده د شهادت اصل عامل بلل کیږی. پوهاند صاحب دا کوښښ کاوه چی «دوستان» پدی پوه کړی چی افغانستان ته پلمی جوړول او یوازی خپلې منافع ترلاسه کول سمه لار نده او دواړو خواوې د نه جبرانکیدونکی تاوان سره مخامخ کوي. د حسن نیت، متقابل احترام، دوستی، ورکلوئ، او ګډو منافو په اساس د افغان ملت اعتماد جلبول او همکارئ ته رابلل تر ټولو آسانه او د ستر منطقوي ثبات او نړیوال سیاسی او اقتصادی( د منځنئ د انرژی منابعو ته لاسرسې) پرمختګ ته د رسیدو لنډه لاره ده. مګر څنګه چی د نړیوالو سره ګاونډیانو افغانستان کی د جنګ ویجاړونکی پروژه لا په مخ وړله او د دوست په جامه کی د افغانستان لاندی کول او د آزادئ جهاد دبی ساره قربانئ سره د خپلو حزبی او جمعیتی نوکرانو په لاس په شرم بدلول، او دا اتل اولس د غلام غلام کول او افغانستان دستراتیژیک عمق دپاره په پنځمه صوبه بدلول لوی هدف ؤ نو ددی په ځای چی د پوهاند صاحب دغه ارزښناک وړاندیزونه کوم چی د افغانستان ستراتیژیک، جیوپولیتیک موقعیت او د ژور تاریخی شالید او ټولنیزو واقعتونو په اساس دوی ته د سترو سپارښتنو په بڼه وړاندی کیدل، دوی پرته له دی چی دا وړاندیزونه مطالعه او ارزیابی کړي برعکس یی دوی وهڅول چی د پوهاند مجروح په شان د ستر ملی او علمی شخصیت د منځه وړلو دسیسه ګړندئ کړي.

www.dawatmedia24.com



پوهاند مجروح دری ورځی مخکی د شهادت نه د پروفیسر فلیکس ارمکورا (د افغانستان دپاره د ملګروملتونو د سرمنشی د بشری حقوقو خاص آستاځی) سره د خبرو په حال کی.

د یادونی وړ ده چی ارمکورا به د یوه هیئت په مشرئ په منظم ډول افغان اطلاعاتی مرکز ته راته او په ورځوورځو به یی د جنګ د قربانیانو اوعینی شاهدانو سره مرکی کولی او د بشری حقونو د سرغړونو اسناد به یې راټولول. د د پوهاند مجروح د شهادت وروسته کوم وخت چی د مرکز د چلولو مسؤلیت ماته وسپارل شو پروفیسرارمکورا خپل دود ته دوام ورکړ او ماته به یې خبر راکړ چې څه وخت مرکز ته راځی تر څو مونږ د بشري حقونو د سرغړونو اسناد اوعینی شاهدان راټول کړو. دا ویلی شم چی هغه وخت په افغانستان کی د ملګروملتونو د بشری حقونو د سرغړونو په ریکارد کی لویه برخه معلومات افغان اطلاعاتی مرکز برابرول.


tions.

Finally, the AIC contends that the martyrdom of Prof. Majrooh is not only a disgrace for Peshawarites but also leaves a lasting discredit to those responsible for the safety and protection of Afghan refugees.

* * *

## BIOGRAPHY

Sayd Bahauddin Majrooh belonged to a Sayed family of Kunar Province, east of Afghanistan. His father, Sayed Shamsuddin Majrooh is a poet and writer of Dari and Pashtu languages. His father was deputy prime minister and minster of justice and frontiers during the reign of ex-king Zaher Shah. His grand father, Sayed Hazrat Shah Pacha, was leader of Qaderia Sufi order in Kunar Valley. The



پوهاند مجروح د میاشتنۍ خپرونی د ایډیټ په حال کی

د افغان اطلاعاتی مرکز نړیوال اعتبار او نیک شهرت، میزبان ملک او د هغو د استخباراتو په لاس جوړ شوي تنظیمی لیډرانو ځان ته تر ټولو ستر چلنج بللو. دا مسأله سبب شوه چی پوهاند مجروح ته لیکلي او تلیفوني تهدیدونه وشی او تیښتې

www.dawatmedia24.com

ته یی اړ کړي، په داسی حال کی چی د نړی مشهور اروپایی او امریکایی پوهنتونونو په مسلسل ډول پوهاند صاحب ته د استادی بیشماره وړاندیزونه ورکول، او هر وار چی به دی د کومې غونډې د ګډون دپاره بهر ته تللو نو د پاتې کیدو بلنې به ورکړل کیدلې. مګر پوهاند صاحب سره د دوستانو د مشورو او ټولو فشارونو سره دا ویل: «ما د دی غریب اولس په مالی مرسته په اروپا کی تحصیلات کړي زه څنګه کولې شم چی په دی اضطراری حالت کی چی افغان اولس زما خدمت ته تر هر وخت ډیر ضرورت لري د تیښتې لار و نیسم خپل سر او خپله کورنۍ وژغوم، زه ددې اولس بچې یم هر څه چی زما په اولس راځي په ما دې هم راشي زه تر دوی بهتر نه یم، زه به دا حقایق وایم که سر مې هم پدی مقدصه لار کی لاړ شی د ویاړ ځای دی، غیر د الله(ج) د بل هیچا نه ویرېږم »

پوهاند مجروح به دا خبری په داسی حال کی کولی استخباراتو او دهغوی مزدور تنظیمی افراطیانو تلیفونی او لیکلی تهدیدونه ده ته په منظم ډول رسیدل او ده به دا ټول د کورنۍ او دوستانو نه پټ ساتل. د امریکا او نورولویدیزو هیوادونو په وار وار پوهاند مجروح ته د ور پیښ تهدیداتو خبر ورکړی ؤ او د پاکستان نه یی د کورنۍ سره د وتلو امکانات ورته برابر کړل، خو ده دا ټول رد کړل او خپل جهاد ته یې دوام ورکړ. تهدیدونه هغه وخت لا نور زیات شول چی پوهاند صاحب د ۱۹۸۷ په اوړی کی خپله مشهوره سروی(نظر پوښتنه) خپره کړه چی د اولس نه د افغانستان د راتلونکي مشرتابه په باره کې پوښتنه شوې وه. نظر پوښتنه د چترال نه تر کوټې بلوچستان پوری د مهاجرینو په کمپونو د میرمنو په ګډون د افغانستان ټولو قومونو او مذهبی اقلیتونو په په ګډون په ډیره معیاری ډول تر سره شوه. د نورو پوښتنو په څنګ کې دا چې څوک د افغانستان د ملي مشر یا زعیم په صفت غواړی ځوابونه دا وو:

| | |
|---|---|
| ظاهرشاه پخوانې پادشاه | ٪۷۱.۶۵ |
| اسلامی نظام | ٪۱۲.۵۰ |
| افغان مسلمان | ٪۱۰.۳۰ |

www.dawatmedia24.com

| | |
|---|---|
| جهادی قوماندانان | ٪۱.۷۵ |
| تنظیمی سیاسی مشران | ٪۰.۴ |
| نه پوهیږم | ٪۳.۳۵ |

دی سروی په نړیوله رسنیو کی داسې بې ساری انعکاس وموند چې د پاکستان استخبارات په لاس جوړ شوي تقلبی لیډرانو اعتبار یی په ملی او نړیواله سطحه ضرب د صفر کړ. کومو تنظمی مشرانو چی د استخباراتو نه دری برخې تسحیلاتی او نقدې مرستې تر لاسه کولې جهاد کم مګر خپلمنځي جګړې ډیرې کولې او د افغانستان د قاطع اکثریت د مشرتابه ادعا کوله دې دغه سروې دوی او باداران یی داسې په قهر او غضب کړل چې شپږ میاشتې وروسته د استخباراتو معلومو تنظیمی بی وجدانه او خرڅ شوو نوکرانو په لاس په یی ډیر بزدلانه او نامردانه ډول زما پلار پوهاند داکتر سید بهاالدین مجروح چی د حقایقو په ښکاره کولو کی د هیڅچا زور ته تسلیم نشو د ۱۹۸۸ د فبروری په ۱۱ ماښام د په افغان اطلاعاتی مرکز کی په شهادت ورسوو.

انا لله و انا الیه راجعون.


انجینیر سید نعیم مجروح




شهید پوهاند مجروح د مرحوم استاد گل پاچا الفت سره په جرمنی کی



پوهاند مجروح د خپل پلار مرحوم استاد سید شمس الدین مجروح سره جرمنی کی



مرحوم استاد سیدشمس الدین مجروح، شهید پوهاند داکترسید بهاالدین مجروح، انجینیر سید نعیم مجروح او لور یی ناهید مجروح (ځلور نسله) پیښور غریب آباد



ملی شاعرمرحوم حمزه خان شینواری افغان اطلاعاتی مر کز کی



مرحوم حمزه خان شینواری ملی شاعر او مرحوم استاد پسرلی مرحوم سید شمس الدین مجروح صاحب ته د فاتحی په حال کی، افغان اطلاعاتی مرکز، پیښور

www.dawatmedia24.com



مرحوم قوماندان جلال الدين حقانی مرحوم مجروح صاحب ته فاتحی په حال کی، افغان اطلاعاتی مرکز پیښور

## د شهيد پوهاند مجروح د اثر «دښمن وپيژنئ» څخه:

افغان مجاهدينو ته

په کومه سخته لاره چې روان ياست، هغه د آزادۍ ستر پړاو ته رسيږي، خو د لارې په تيټ او پاس کې لمړی دښمن وپيژنئ، او دوهم د مقصد منزل هير نه کړئ!

د مقصد منزل کوم دی؟

د مقصد ستر پړاو آزادي ده، او هغه دا ده:

آزاد سر لوړې ژوند په آزاد آباد هيواد کې

www.dawatmedia24.com

چا چې په رښتیا سره د خدای(ج) بندګي منلې وي نو د بنده بندګي ته هیڅکله غاړه نشي ایښودای.

د سترو آسماني دینونو او مخصوصاً د اسلام د مبین دین یو بنیادي اصل داسی دې:

د بشري خلقت مبدأ، منبع او روستنۍ مرجع یوه معنوي هستي ده، د انسان او د جهان شته والې او موجودیت بې معنی او بې مفهومه نه دی، بلکې د کائیناتو په ټول خلقت کې ځای او مقام لري، معنی او هدف لري، انسان د یوې بې انتها هسۍ بنده دی، د ازلي او ابدي خالق مخلوق دی چې مادي او معنوي جهان ئې له نیسته پیدا کړی دی.

نو داسی یو انسان چې خپل طبعیت ته په معنوي ارزښت قایل وي، او د خپل خدای بندګي د زړه له کومي ومني نو بیا د بنده یا د بندګانو مریتوب هیڅکله نشي زغملای.

ستر آسماني دینونه او مخصوصاً د اسلام مبین دین فردي عنصر او فردي اخلاقي شعور ته په ډیر ژور ارزښت قائل دی او د خیر او شر د تمیز درونډ مسؤلیت ئي د دی شعور په غاړه ایښودې دی.

د خدای(ج) او د خلکو په مقابل کې دا اخلاقي مسؤلیت هر رښتني مؤمن مکلف کړې دی چې د هر هغه سیاسي او اجتماعي نظام سره په کلکه وجنګیږي چې د خیر او نیکی له لارې څخه انحراف کوي او شر او فساد په نړۍ کې خپروي.

د انساني موجودیت هدف او معنی ، او د انساني طبیعت وده او تکامل په معنویت او روحانیت کې دی نه په مادیت او ماده پرستۍ کې.

د انسانیت ښه معیار عدالت او برابري ګنم. د ځمکې په سر بد انسان هغه دې چې د ځان څخه پرته نور جهان نه ګوري، دیکتاتوري او استبداد هم له همدی ځای نه راپیدا کیږي.

مجاهد زوی ته یوې پښتنې مور پیغام څخه:

ګرانه زویه:

ته سپارلې ما په خدای یی مور دې زار شه

مال د خدای یې هم هغه دې مددګار شه

ستا نه زار شم شهادت که نصیب ستا وي

په دې کار کې به د رب خپله رضا وي

که د ملک نه دې بهر کفر او الحاد کړو

که غازي شولې وطن دې خپل آزاد کړو

نو یوه ورځ به د غازیانو لښکر راشي

ته به راشې، بیا به نوې اختر راشي

بیا به ګرځم په دې دښت په دې دمن کی

هسکه غاړه په آزاد آباد وطن کې

ګرانه زویه مور دی زارشه (درخانۍ)

www.dawatmedia24.com

د پوهاند مجروح ستر فلسفی اثر «اژدهای خودی» په باره کی د پوهانو نظریات:

در بین افسانه گویان و داستان سرایان بزرگترین هنرمند کسی است که جهانبینی عصر خود، افکار و نظریات آخرین جهان علم را بزبان شایسته عواطف بیان کند و آنرا در هنر بدرستی تمثیل نماید. به عقیده من ادب و شعر نو همین است.
نویسنده این کتاب ازعهده این کار توانسته بر آید. این کتاب در محیط ما اثر منحصر به فردی بشمار میرود و بصورت عام هرکس در هر جای هم آنرا فکری بکری خواهد شناخت...

سید شمس الدین مجروح

این اثر فلسفی و ادبی خود خواهی انسان را در انحرافات فکری او خوب به میدان کشیده است...

محمد هاشم میوندوال

«اژدهای خودی» ارمغانی بود و زیبا ارمغان، پر بها جانی و پر ارزش روان، این اثر را که مظهر زیبایی و جلال دل (Human Mind) انسانی است بیش از یکبار خواندم ...

عبدالرحمن پژواک

که څوک غواړي په ځان او جهان کې د اژدها د مرگ په راز پوه شي دا اثر دې په غور مطالعه کړي...

گل پاچا الفت

www.dawatmedia24.com

سید بهالدین مجروح که یگانه فیلسوف و متفکر نیمه دوم قرن بیستم افغانستان است، به شیوه فلاسفه و نویسندگان قرون ۱۷ و ۱۸ فرانسه مخصوصاً آنها یی که قبل از انقلاب کبیر فرانسه افکار و اذهان را برای انقلاب آماده می ساختند، درین نبشته های خود فیلسوفانه در عمق جامعه افغان داخل می شود و معنی زندگی و آزادی را جستجو می کند، نارسایی های که مردم ما در جریان جهاد به آن مواجه می گردیدند، ماهرانه به انتقاد می گیرد...

عبدالحمید مبارز

دانشمند گرامی مجروح!

روی سخن به صبغهء تخیل و شکوه اثر و زیبایی اسلوب بدیع و شیوایی میباشد که خامهء جادوطراز خیال انگیز اثرآفرین تو ایجاد نموده؛ تو با این داستان های مرموز، معانی لطیف را در الفاظ رقیق گنجانیده ای و این خیال بدیع را در کمال تردستی نقش بسته یی. اگر درین داستان رمزی و کنایتی است که در خاطری خاری کارد و در دلی باری آرد، به قضاوت خودت اختصاص دارد.

نامه یی از

به هرحال و با هرنوع برداشت، این تصویر زیبا را در نگارستان ادب دری از نگاه فصاحت و ابتکار، محلی است عالی و ممتاز و در نگاه سخن شناسان اثری است ارزنده و دلنواز...

**حدیث عشق سرکن گر علاج غفلتم خواهی**

**که این افسانه آتش دارد و من پنبه درگوشم**

**خلیل الله خلیلی**

www.dawatmedia24.com

این کتاب گرچه از روی صورت نثر است، اما در سیرت سراپا کلام رنگین و نقاشی طبیعت و شرح حال دل و تپش دل و هراس جان...

دوکتور روان فرهادی

د پوهاند مجروح لنډه پیژندنه:

شهید داکتر سید بهاالدین مجروح د افغانستان د نومیالي شاعر، ادیب او سیاستمدار ښاغلي سید شمس الدین مجروح زوی دی چې دکنړ ولایت د شیګل اولسوالۍ د شینکوړک کلي په یوه روحاني کورنۍ کې زیږدلې دې.
لمړني تعلیمات یې د شینکوړک د کلي په جومات کې سر ته ورسول او د دری مشهور کتابونه لکه ګلستان، بوستان او سکندرنامه یې ولوستل.
له څه موديې وروسته کابل ته د خپل پلار سره لاړ او د دیارلس کلنۍ په عمر د استقلال د لیسې په څلورم ټولګي کی شامل شو. ۱۹۵۰ کال کې د دغی لیسې د ادب او فلسفې څانګې څخه په لمړۍ درجه فارغ او د هغه وخت د دولت له خوا د عالي تحصیلاتو دپاره فرانسې ته ولیږل شو. د۱۹۵۲ تر ۱۹۵۸ کال پورې د پاریس په سوربن او بیا مونت پیلیه په پوهنتون کې خپل عالي تحصیلات د روحیاتو او فلسفې په څانګه کې د مافوق لیسانس په درجه سر ته ورسول. په همدې دوره کې یی وکړای شو د آلماني او انګریزي ژبو ادبیات په په غربي آلمان او انګلستان کې سر ته ورسوي.
په ۱۹۵۸ کال کې خپل هیواد ته راستون او د کابل پوهنتون د ادبیاتو د پوهنځي استاد او بیا رئیس شو. په ۱۹۶۳- ۱۹۶۴ کال کې د کاپیسا ولایت د والي په حیث وظیفه اجرا کړه، د همدې کال په وروستیو کې په غربي آلمان کې دکلتوري رئیس په صفت مقرر شو. پوهاند مجروح د رسمي کار ترڅنګه د خپلې دوکتورا د پاره کار پیل کړ او په ۱۹۶۸ کال کې یې د مونت پیلیه د پوهنتون څخه د ادبیاتو او فلسفې په څانګه کې(د ځان تربیه او زمونږ روانشناسي) دوکتورا واخیسته.

www.dawatmedia24.com

په ۱۹۶۹-۱۹۷۲ کال پورې د دوهم ځل لپاره د کابل پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي کې استاد په حیث مقرر او همدې دوره کې د پوهنځي انتخابي رئیس شو.
په ۱۹۷۲-۱۹۷۳ کال کې د افغانستان د تاریخ دټولنې رئیس ؤ. د ۱۹۷۳-۱۹۷۹ بیا د ادبیاتو په پوهنځي کې د فلسفې استاد په صفت وظیفه اجرا کوله.
د۱۹۸۰ کال د فبروري په ۱۲مه نیټه په افغانستان باندی د روسانو یرغل سره پوهاند مجروح هم د هجرت لاره ونیوله او پاکستان ته یې مهاجرت وکړ. هلته یې د افغان مجاهدینو د مسلحانه جهاد په څنګ کې د فرهنګي جهاد لپاره د «افغان اطلاعاتي مرکز» په نامه د قلمي جهاد دفتر پرانیست او د انګلیسي ژبې میاشتنۍ خپرونه یې پیل کړه او تر هغه وخت پوری دوام ور کړ ترڅو په خپل دفتر کې په شهادت ورسید او قلم یې د لاسه وغورزید.
دی که څه هم ژورنالیست او خبرنګار نه ؤ خو دا فیصله یې وکړه چې د افغانستان دننه حالاتو څخه نړیوال په واقعي توګه خبر او د روسانو او ددوی دغلامانو ټول فجایع او جنایات بربنډ او افشاء کړي.

د پوهاند مجروح آثار:

اژدهای خودی په پنځه جلده کې
د ځان ځانۍ ښامار د پښتو ژبی د شعر په بڼه (د پښتو ادب کې نوې سبک ابداع)
په فرانسوي ژبه د ځان ځانۍ ښامار (ایګو مانستر)
دښمن وپیژنۍ مجاهیدنو ته خطاب
د جبر او اختیار دیالکتیک
ناآشنا سندری(شعرونه)
خپل ځوان مجاهد زوی ته یوې پښتنې مور پیغام(شعرونه)
صوفیزم او متمدنه نړې
مقالې:
به یاد علامه ابو ریحان بیرونی و در جستجوی روحیه تحقیقات علمی او
سید جمال الدین افغانی و برخورد شرق و غرب
روشنفکران افغان در تبعید
نظری به تاریخ داستان زندگی بودا
پیشنادی در باری کانګرس غرب شناسی
پیام صوفی بت شکن به بت پرستان قرن بیست

www.dawatmedia24.com

د فلسفې لنډ تاريخ
د اجتماع دعلم په باره کې يو څو لمړۍ خبرې
د مطلق حاکميت نور پرنسيپونه
کارل مارکس سياسي نظريات
د اوسني ساينس څو فلسفي مفکورې
علم النفس د هرچا لپاره
خان خټک دستارنامه د خوشحال
په پښتو ژبه او ادب کې د نوي اصولو او نوي سبک لارې
د ادبياتو پوهنځي ريس ښاغلي مجروح د هغې وينا متن چې د جغرافيې موسسې
پرانيسلو په مناسبت يې وکړه
په لنډيو کې د پښتنې مېرمنې يوه خاصه څېره
ژباړې:
د افغانستان د تاريخ مهم خصوصيات
د نورو ادب
زه او زما پلار پرلاګر کويست
نوميالي پوهان: ګاليله، البرت کامو، کريتون، سقراط په زندان کې
(د يادونې وړ ده د پوهاند مجروح د مقالو او ژباړو ټولګه د پوهاند لعل پاچا
ازمون په زيار د کابل پوهنتون له خوا چاپ ته ورسيده.)

ويرنې (مرثيې)

پښتونخوا کې په نه پس نفغا لجما له
هم دا يو بهاؤدين ؤ چې رخصت شو
دپښتون د بدبختۍ نه به څه وايم
چې غروب ئې دا کوکب د سعادت شو

حمزه شينوارې

د وطن د آزادۍ په استقلال ئې
دګلونو په ځای وينه وشيندله

www.dawatmedia24.com

هغه روڼ مشال بې وخته تيارو ونغړد
چې تياره دغلامۍ به ئې غندله

همیش خلیل

په سيد پسې دويم فخر افغان وې
چې روان شوې د علمي جهاد سنګر ته
د رسول د زړه ټوټه چې ئې شهيد کړ
په محشر به څنګه ګورې پيغمبر ته
صديق پسرلې

نيست غم ,,مجروح,, اګر مقتول شد از تيغ کين
زنده جاويد هرګز می توان از ياد رفت؟
ای خوش آن عقاب مغروری که تا هنګام مرګ
فارغ از انديشه فرعون وهم شداد رفت
محمد اسحق نګارګر

بې له خدايه چې بل چاته ښکته نشو
هغه قد هغه قامت هغه پيکرلاړ
دانائې به وايه چاته شي په غاړه
چې دانا د زمانې لاړو نظر لاړ
چې دنيائې منتظره د نظر وه
هغه سوچ هغه قلم هغه دفتر لاړ
عبالله غمخور

ته قاتل شوې خو دانش دې قتل نه کړو
مرګيه! هيڅ عقل شعور وژلې نه شې
د عرفان او د عمل مجروح شهيد شو
شه په ګور ئې نور دټولو روح شهيد شو
عاصي آشناغرې

نيشې د استبداد ئې د احساس سترګې لړندې کړې
لګيا دي د فکرونو کور او کلې ورانوي
چې مجروح غوندې پوهان له منځه باسي افسوس دې
دعلم دښمنان د علم څلي ورانوي
حبيب الله رفيع

هاتف ژغ وکړ چې وای دغه له څه دي
چې په شانې د مجروح پوهان واژه دي
خو په قبر ئې پوهانو داسې وويل
چې نور په مرګ مئين کړل نو مړه نه دي
قندهار اپريدې

www.dawatmedia24.com